افغان کرکټ

AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

بریـــــــا د ټولو هیله

اووم کال، دویمه ګڼه
فبروري- ۲۰۲۰ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنيو او بازار موندنې څانګه
مياشتنۍ مجله
فبروري - ۲۰۲۰

مسوول مدير: عبدالله خان پکتانی
ليکوالان او راټولوونکي:
ابراهيم مومند، محمد فريد هوتک،
محمد نعمان اشرفي او پرهيز شګيوال
عکس اخيستونکي:
سيد حسرت سادات او صديق الله عابد
ډيزاين: احمد عابد سعادت
بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لړلیک

سرمقاله	۱
ملي لوبډله د ایرلنډ پر وړاندې د سیالیو په موخه هندوستان ته ولاړه	۲
ملي لوبغاړی محمد شهزاد بیرته له لوبډلې سره یو ځای شو	۴
کرکت بورد افغانستان بار دیگر قرارداد همکاریهای سفر هوایی را با شرکت کام ایر به امضا رساند	٦
افغانستان د ځوان لوبغاړو په موندلو کې له بل هر هېواد مخکښ دی	۸
دویمه درجه ولایتي سیالی پیل شوې	۱۴
د کرکټ نړیواله شورا په کرکټ لوبه کې نوي قوانین پلي کوي	۱٦
د چټکو توپ اچوونکو تمریناتي کمپ پیل شو	۱۸
له ځوان لوبغاړي شفیق الله غفاري سره مرکه	۲۴
د افغانستان کرکټ بورډ د څانګو پېژندنه	۳۰
بنګله دېش د کرکټ په تاریخ کې لومړی نړیواله اتلولي وګټله	۳۸
Women's T20 World Cup	۴۵

سرمقاله

د بریا په تکل

افغان ملي لوبډله به د راتلونکي مارچ میاشتې په شپږمه، اتمه او لسمه نېټو د ایرلنډ پر وړاندې درې شل اوریزې نړیوالې لوبې ترسره کړي. دا په داسې حال کې ده چې د تېر ۲۰۱۹م کال په مارچ میاشت کې هم افغان لوبډلې د ایرلنډ ملي لوبډلې پر وړاندې درې شل اوریزې لوبې ترسره کړې وې چې د ټولو بریا د افغان لوبډلې په برخه شوې وه.

افغانستان او ایرلنډ په یو وخت کې د کرکټ نړیوالې شورا بشپړ غړیتوب ترلاسه کړی دی او ایرلنډ هم یوه غښتلې لوبډله ده چې باید په وړه سترګه ورته ونه کتل شي، ځکه د کرکټ نړیوالې شورا بشپړ غړیتوب ترلاسه کول اسانه کار نه دی.

سربېره پر دې د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه د ټولو بشپړ غړیتوب لرونکو هېوادونو له کرکټ بورډونو سره په اړیکو بوخت دی، څو د کرکټ نړۍ له سترو لوبډلو سره هم د افغان لوبډلې لپاره دوه اړخیزې لوبې برابرې کړي او زموږ هېوادوال ترې خوند واخلي.

هیله ده افغان لوبډله په راتلونکو دریو شل اوریزو لوبو کې هم ښه وځلیږي او یو ځل بیا سیالې لوبډلې ته په ماتې ورکولو سره د افغانستان بیراغ پورته کړي.

درنښت

ملي لوبډله د ایرلنډ پر وړاندې د سیالیو په موخه هندوستان ته ولاړه

افغان ملي لوبډله د روزنیز کمپ او د ایرلنډ پر وړاندې د لوبو په موخه هندوستان ته ولاړه د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې د یوې خبري ناستې پر مهال د ایرلنډ کرکټ ملي لوبډلې پروړاندې د دریو نړیوالو شل اوریزو لوبو په موخه د ملي لوبډلې ۱۵ کسیز نوملړ اعلان کړ چې پکې اصغر افغان د لوبډلمشر په توګه، رحمن الله ګربز، حضرت الله ځاځی، کریم جنت، نجیب الله ځدراڼ، محمد نبي، ګلبدین نایب، راشد خان مرستیال لوبډلمشر، نوین الحق، شاپور ځدراڼ، مجیب الرحمن، قیس احمد، عظمت الله عمرزی، سمیع الله شینواری او عثمان غني شامل دي.

د غوراوي کمېټې مشر ښاغلي انډي مولز په دې تړاو د خبري ناستې پر مهال وویل، د شل اوریزه لوبو تر ټولو غوره افغان لوبغاړو ته په دې نوملړ کې ځای ورکړل شوی دی او له دوی تمه کېږي چې د ایرلنډ پر وړاندې به ښه وځلیږي.

ښاغلي مولز د خبریالانو د پوښتنو په ځواب کې وویل، د حضرت الله ځاځي فټنس ورځ تربلې د ښه کېدو په حال کې دی او په دې برخه کې یې ډېر پرمختګ کړی دی چې سربېره پر نوموړي ټولو تکړه لوبغاړو ته په لوبډله کې ځای ورکړل شوی دی.

نوموړي دغه راز زیاته کړه، عظمت الله عمرزی او قیس احمد د افغانستان راتلونکي ستوري دي او د همدې لپاره لوبډله کې اخیستل شوي چې ضایع نه شي او په دوامداره لوبو کولو سره لا ډېره تجربه ترلاسه کړي او په پایله کې غوره لوبغاړي ترې جوړ شي.

ټاکل شوې د روان کال د مارچ په شپږمه، اتمه او ۱۰مه نېټه د افغانستان او ایرلنډ ملي لوبډلو ترمنځ د افغانستان په کوربه توب درې نړیوالې شل اوریزې لوبې د هندوستان په ګریټر نویډا لوبغالي کې ترسره شي.

هېره دې نه وي چې په اعلان شوي نوملړ کې شاپور ځدراڼ د یو نیم کال ځنډ وروسته لوبډلې کې اخیستل شوی چې ترڅنګ یې ځوان الراونډر عظمت عمرزی او قیس احمد هم لوبډله کې اخیستل شوي دي.

د ویلو ده، چې افغان لوبډلې د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په مارچ میاشت کې د ایرلنډ لوبډلې پر وړاندې درې شل اوریزې نړیوالې لوبې ترسره کړې وې چې یاد هېواد ته یې په درې واړو شل اوریزه لوبو کې ماتې ورکړې وه.

افغان کرکټ ملي لوبډله اوسمهال د کرکټ نړېوالې شورا په چوکاټ کې د شل اوریزه لوبو په نړېواله درجه بندۍ کې اووم مقام لري.

کرکټ ملي لوبډله به همدارنګه په هندوستان کې د فبروري له ۱۲مې تر ۲۱مې نېټې د هند اب و هوا سره د بلدتیا او فزیکي غښلتیا او تکړښت په موخه تمرینات ترسره کړي.

دغه راز به افغان لوبغاړي د فبرورۍ له ۲۲مې د مارچ تر ۴مې نېټې به د مشر روزونکي لانس کلوزنر او نورو روزونکو په شتون کې رسمي تمریناتي کمپ هم ترسره کړي چې پکې به د ځايي لوبډلو سره هم دوه تمریناتی لوبې ترسره کړي.

ملي لوبغاړی

محمـــــد شهـــــزاد

بیرته له لوبډلې سره یو ځای کېږي

د افغانستان کرکټ پیاوړی لوبغاړی محمد شهزاد محمدي له کرکټ څخه له شا وخوا اوو میاشتو بندیز وروسته بیرته له ملي لوبډلې سره یوځای کېږي.
محمد شهزاد د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په اګست میاشت کې د کرکټ له اصولو د سرغړونې په تور د یوه کال لپاره د هر ډول کرکټ له بندیز سره مخ شوی و، خو دا چې نوموړي د اداري عمومي مشر او ډسپلین کمېټې له لوري پر هغه د بخښنې غوښتنه کړې وه چې په پایله کې یې د اداري د ډسپلین کمېټې له پرېکړې او عمومي مشر ښاغلي فرهان یوسفزي له تایید وروسته کرکټ ته راستون شو.
د یادولو ده که څه هم پر ملي لوبغاړي محمد شهزاد د لوبې نه کولو بندیز لري کړل شو، خو د هغه د قرارداد د بندیز موده به تر خپلې ټاکلې مودې پورې وي چې د یادې مودې له پای ته رسېدلو وروسته به نوموړی له اداري خپل قرارداد ترلاسه کړي.
محمد شهزاد هغه مهال د کرکټ بورډ له اجازې پرته له هېواده بهر سفرونه کړي وو او همدارنګه د یوه بل هېواد په کرکټ اکاډمۍ کې پر تمریناتو لیدل شوی و چې دغه کار د اداري له اصولو بشپړه سرغړونه وه، چې په پایله کې یې د افغانستان کرکټ بورډ د ډسپلین کمېټې له لوري له یوه کال بندیز سره مخ شوی و او دا دی اوس له شا وخوا اوو میاشتو بندیز وروسته د کرکټ لوبې اجازه ترلاسه کوي.
شهزاد محمدي د ملي لوبډلې چټک توپوهونکی دی چې د لوړو شاټونو او غوره توپوهنې وړتیا لري، پر همدې بنسټ هیله ده ملي لوبډله د نوموړي په راستنېدو سره لا ډېره پیاوړې او تکړه شي.

کرکت بورد قرارداد همکاریهای سفر هوایی را با شرکت کام ایر به امضا رساند

مسوولین اداره کرکت بورد افغانستان و شرکت خصوصی کام ایر تاریخ ۴ فبروری طی یک نشست، قرارداد همکاریهای سفر هوایی را بخاطر سه مسابقه بیست آوره مقابل تیم ایرلند که در کشور هندوستان برگزار میشود، به امضا رساندند که به اساس آن کارمندان اداره و بازیکنان ملی از حقوق و امتیازات این قرارداد مستفید خواهند شد و در عوض آن کرکت بورد به شرکت هوایی کام ایر زمینه اعلانات مساعد خواهد ساخت.

این در حالی است که شرکت خصوصی کام ایر قبل از این نیز برای سلسله مسابقات یک روزه، بیست آوره و تیست مقابل ویست انديز که مسابقات متذکره نیز در کشور هندوستان برگزار شده بود، با اداره کرکت بورد افغانستان در عرصه سفر، قرارداد همکاری را به امضا رسانده بود.

مسوولین کرکت بورد افغانستان در این نشست از رهبری و مسوولین شرکت هوایی خصوصی کام ایر ابراز تشکری نموده گفتند، جای خوشی است که بار دیگری با شرکت کام ایر امضای قرارداد می نمایند و امید است که شرکت کام ایر درین مورد بالای قرارداد طویل المدت نیز فکر نماید.

همچنان نماینده گان شرکت هواپیمایی کام ایر نیز در نشست از اداره کرکت بورد تشکری نموده، گفتند افتخار دارند که اداره کام ایر در بخش سفر هوایی با اداره کرکت بورد افغانستان قرارداد همکاری خویش را به امضا رساندند و تلاش خواهند نمود تا با اداره کرکت بورد در این راستا قرارداد طویل المدت نیز به امضا برساند.

قرار است تیم ملی کشور تاریخ ٦، ۸ و ۱۰ مارچ سال جاری میلادی در کشور هندوستان مقابل تیم ایرلند سه رقابت بیست آوره بین المللی انجام دهد و این درحالی است که تیم ملی در ماه مارچ سال گذشته میلادی نیز مقابل کشور نامبرده سه مسابقه بیست آوره انجام داده بود که همه آن به نفع افغانستان تمام شده بودند.

افغانستان د ځوان لوبغاړو په موندلو کې له بل هر هېواد مخکښ دی

ډېری وخت په ټولنیزو رسنیو کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلو ته د غوراوي لړۍ یو تود بحث وي او هر څوک په دغه برخه کې د خپلې خوښې او ناخوښې لوبغاړو پر زیاتولو یا کمولو بحث کوي او د دوی پر غوراوي یا نه غوراوي کلکې نیوکې موجودې وي.
خو د غوراوي کمېټې ټول پړاونه د یوه سیستم له لارې مخ ته وړل کېږي او ټول لوبغاړي د اړتیا او وړتیا له مخې د لوبډلو نوملړونو ته اضافه کېږي چې اوسنې مشرتابه یادې برخې ته ډېر لومړیتوب ورکړی، څو ټول لوبغاړي باید د وړتیا پر بنسټ لوبډلو ته لاره ومومي او په دې سره په تدریجي ډول د پخوانیو لوبغاړو ځای په باید نوو افغان لوبغاړو ته پرېښودل شي.
یو بل اړین ټکی چې باید یادونه یې وشي چې یاده لړۍ د یوې مثبتې سیالۍ پر بنسټ مخ ته وړل کېږي، ځکه په ملي لوبډلو کې شته لوبغاړي باید له خپل سیال لوبغاړي سره سیالي وکړي او د خپلو ډېرو ښېګڼو پر مټ لوبډلو ته لاره ومومي او همدارنګه دا هم د یادونې وړ ده چې هیڅکله هم توپوهونکی د توپ اچونکي او توپ

اچونکی بیا د توپوهونکي پر ځای لوبډله کې ځای نه شي پیدا کولی چې دغه ټکی باید د کرکټ ټولو مینه والو ته روښانه وي.
د کرکټ مینه وال باید دغې خبرې ته هم فکر وکړي چې بدلون باید دوی بدلون د اړتیا له مخې وغواړي، خو پر دې سربېره افغان کرکټ بورډ بیا هم ډېره هڅه کړې چې له تېرو لسو کلونو راهیسې د ۱۹ کلنو کم عمره نړیوالو جامونو له ځوان ځلېدونکو لوبغاړویې یو شمېر په ملي لوبډله کې ونیسي چې دغه د تدریجي بدلون او پرمختګ یوه ښه بېلګه بللی شو.
د کرکټ بشپړ غړیتوب لرونکو هېوادونو له ډلې د افغانستان کرکټ بورډ یوازېنۍ اداره ده چې همېشه یې ځوان ځلېدونکو

لوبغاړو ته په لوبډله کې ډېر چانس ورکړی دی او په خپل وخت د دوی له ټولو استعدادونو ګټه پورته کوي او دغه چاره یې تر اوسه په ډېره ښه توګه ترسره کړې ده. یوه ښه بېلګه یې وړاندې کوو چې که چېرې افغانستان کې ځوان لوبغاړو ته د مخکې تګ چانس او موقع نه وی برابره شوې نو نن به د پاکستان، سریلانکا، هند، بنګله دېش، ویسټ انډیز او ځینو نورو هیوادونو په پرتله د کرکټ نړۍ لیګونه پر افغان لوبغاړو ښکلي او رنګین نه وای چې دلته د راشدخان، مجیب الرحمن، ظهیرخان پکتین، رحمن الله ګربز، نوین الحق او نورو لوبغاړو یادونه کولی شو. که چېرې تاسو د تېر ۲۰۱۸ کال د نولس کلنو کرکټ نړیوال جام ته نظر واچوئ نو له یاد جام څخه ډېرو ځوان لوبغاړو د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې په ګټه په بېلابېلو شل اوریزه، پنځوس اوریزه او ټیسټ سیالیو کې لوبې وکړې. همدارنګه که همدا اوس د ایرلېنډ پر وړاندې د افغانستان درې شل اوریزه لوبو لپاره ۱۵ کسیزه غوره شوي نوملړ ته وګورئ نو د رحمن الله ګربز، نوین الحق، مجیب ځدران، عظمت الله عمرزی او قیس احمد په څېر داسې لوبغاړي شامل دي چې دوه کاله وړاندې په ۲۰۱۸ کال کې د نیوزیلنډ په کوربه توب د افغانستان په ګټه د نولس کلنو په کرکټ نړیوال جام کې ولوبېدل.

که د یادو ۵ لوبغاړو ورهاخوا وګورئ نو ان د ۲۰۱۸ کال نولس کلنو نړیوال جام څخه د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې په ٦ لوبغاړو ابراهیم ځدران، اکرام علي خیل، وفادار مومند، مجیب ځدران، وقارسلام خېل او ظهیرخان پکتین ستر ټیسټ کرکټ هم وکړ چې ښایي د نورو هیوادونو ځوان لوبغاړي دغو شېبو ته کلونه کلونه انتظار وکړي. خو که د ۲۰۱۸ کال د نولس کلنو کرکټ نړیوال جام کې د نورو او کم ترکمه د بشپړو هیوادونو پلان او نویو استعدادونو ته د چانس ورکولو خبره شي نو یاد هېوادونه د افغانستان په پرتله، ځوان لوبغاړو ته په خپلو ملي لوبډلو کې په چانس ورکولو کې پاتې راغلي دي. له افغان کرکټ وروسته بنګله دېش هغه دویم هېواد دی چې د ۲۰۱۸ کال ۱۹ کلنو

نړیوال جام ۱۹ کلنې لوبډلې څخه یې یوازې څلور لوبغاړو سیف حسن، عفیف حسین، محمد نعیم او امین الاسلام ته په خپله ملي لوبډله کې چانس ورکړی دی.

هندوستان بیا د تېر نړیوال جام ۱۹ کلنې لوبډلې څخه یوازې ۱ لوبغاړی پریتوي شاه، انګلستان ټام بنټون، ایرلېنډ هیري ټیکټر، سریلانکا کامیندو مینډیس او پاکستان بیا ۲ لوبغاړو شاهین شاه افریدي او محمد موسی ته په ملي لوبډله کې د لوبېدو چانس ورکړی دی.

هاخوا سویلي افریقا، نیوزیلېنډ، زمبابوې، اسټرالیا او ویسټ انډیز بیا د خپلو ۱۹ کلنو کرکټ ملي لوبډلو څخه بیا هیڅ لوبغاړی چې د دې هیوادونو په استازیتوب په ۲۰۱۸ کال نولس کلنو نړیوال جام کې ولوبېدل تراوسه خپلې ملي لوبډلو ته نه دې اخیستې.

نو له دې پرتلنې وروسته دا په ښه توګه جوتیږي چې کوم هېواد د ځوان لوبغاړو په موندلو او ډګر ته راوستلو کې غوره رول درلود، له شک پرته چې افغانستان دی ځکه تر اوسه یې ډېر شمېر ځوان لوبغاړی ډګر ته راښکته کړي او د دوی پټ استعدادونه یې نړیوالو ته ښودلی دي چې بیا ځوان لوبغاړو هم په نړیواله کچه د افغانستان بیراغ رپولی او خپل هېواد ته یې ویاړونه راوړي دي.

Provincial Challenge Cup Grade II Tournament

د چلنج کپ دويمه درجه ولايتي سيالۍ

دويمه درجه ولايتي سيالۍ پيل شوې

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې د فبروري مياشتې په لومړۍ نېټه د ۲۰ ولايتونو ترمنځ ننګرهار په غازي امان الله خان، د کندهار او خوست په کرکټ لوبغالو کې د چلنج کپ دريمه درجه ولايتي سياليو لړۍ پيل شوه چې په لړ کې يې د ۲۲ ولايتونو لوبډلو د يو بل پر وړاندې لوبې وکړې چې له ډلې يې لسو لوبډلو د دويمه درجه ولايتي سياليو ته لاره ومونده او دغه پړاو لوبې د فبروري په ۱۳ مه پای ته ورسېدې چې په يادو لسو لوبډلو کې د ميدان وردګ، فراه، کوچيانو، فارياب، زابل، نورستان، باميان، پروان، بغلان او سمنګان لوبډلې شاملې وې.

ورپسې د فبروري په ۲۲مه نېټه د هېواد د ۱٦ ولايتي لوبډلو ترمنځ د چلنج کپ دويمه درجه (ګريډ ټو) سيالۍ د ننګرهار او خوست ولايتونو په لوبغالو کې پيل شوې چې د روان کال د مارچ مياشتې تر پنځمې نېټې پورې به دوام ومومي. دغوسياليوته تېر کال شپږوولايتي لوبډلوچې دبلخ، کندز، هلمند، هرات، لوګر او پکتيا لوبډلې پکې شاملې دي؛ لاره موندلې وه، خو ۱۰ نورو ولايتي لوبډلو ورته د سږ کال درېمه درجه (ګريډ تري) سياليو څخه لاره پيدا کړه.

د افغانستان دوېمه درجه ولايتي سيالۍ به د ۱۳ ورځو لپاره په ۴ ګروپونو کې ترسره شي چې د هر ګروپ لومړې مقام لرونکې لوبډلې به ترې د هېواد په کچه لومړۍ درجه (ګريډ ون) سياليو ته لاره پيدا کړي.

د چلنج کپ دويمه درجه ولايتي سياليو لړۍ د فبروري په ۲۲مه د خوست او ننګرهار په غازي امان الله خان لوبغالو کې د سپين غر زون او مس عينک زون د مسوولينو له لوري پرانېستل شوې چې دغه سيالۍ يې د هېواد په کورني کرکټ کې ډېرې مهمې او اړينې يادې کړې.

بايد ووېل شي چې د افغانستان په لومړۍ درجه (ګريډ ون) کرکټ سياليو کې څلورو ولايتي لوبډلې چې د ننګرهار، خوست، کندهار او کابل ولايتي لوبډلې پکې شاملې دي؛ تېر کال ياد پړاو سياليو ته لاره موندلې ده. د يادولو ده چې د هېواد په کچه لومړۍ درجه ولايتي کرکټ سيالۍ به د روان کال د مارچ مياشتې په لسمه نېټه په خوست ولايت کې د ۸ غوره لوبډلو ترمنځ د ليګ په بڼه ترسره شي چې هره لوبډله به له بلې سره يوه يوه سيالي ترسره کړي او په پايله کې به يې يوه لوبډله د دغو سياليو اتله لوبډله اعلان شي.

Schedule

Group A

M-1	Feb 22nd	Kochian	vs	Maidan Wardak
M-3	Feb 23rd	Baghlan	vs	Farah
M-5	Feb 24th	Kochian	vs	Baghlan
M-7	Feb 25th	Farah	vs	Maidan Wardak
M-9	Feb 26th	Kochian	vs	Farah
M-11	Feb 27th	Baghlan	vs	Maidan Wardak

9:00 am - Ghazi Amanullah Khan Cricket Ground

Group B

M-2	Feb 22nd	Paktia	vs	Nooristan
M-4	Feb 23rd	Faryab	vs	Zabul
M-6	Feb 24th	Zabul	vs	Nooristan
M-8	Feb 25th	Paktia	vs	Faryab
M-10	Feb 26th	Faryab	vs	Nooristan
M-12	Feb 27th	Paktia	vs	Zabul

9:00 am - Khost Cricket Ground

Group C

M-13	Feb 29th	Logar	vs	Balkh
M-15	Mar 1st	Herat	vs	Bamyan
M-17	Mar 2nd	Balkh	vs	Herat
M-19	Mar 3rd	Logar	vs	Bamyan
M-21	Mar 4th	Balkh	vs	Bamyan
M-23	Mar 5th	Herat	vs	Logar

9:00 am - Khost Cricket Ground

Group D

M-14	Feb 29th	Kunduz	vs	Helmand
M-16	Mar 1st	Parwan	vs	Samangan
M-18	Mar 2nd	Kunduz	vs	Samangan
M-20	Mar 3rd	Helmand	vs	Parwan
M-22	Mar 4th	Kunduz	vs	Parwan
M-24	Mar 5th	Helmand	vs	Samangan

9:00 am - Ghazi Amanullah Khan Cricket Ground

GRADE II

کرکټ نړېواله شورا

په کرکټ لوبه کې نوي قوانین پلي کوي

د کرکټ نړېواله شورا ډېری وخت د کرکټ پوهانو له سلا-مشورو وروسته په دوامداره توګه د کرکټ لوبې په قانون کې بدلونونه راولي ترڅو دغه لوبه لا په زړه پورې او پر اصولو برابره کړي. د لومړي ځل لپاره نوي رامنځته شوي بدلونونه د سویلي افریقا په کوربه توب د ۲۰۲۰ کال ۱۹ کلنو کرکټ نړیوال جام له پای لوبې وروسته د عملي کېدو وړ شول چې د ښځینه شل اوریزه کرکټ نړېوال جام پرمهال به د لومړي ځل لپاره عملي شي، چې یادې لوبې د فبرورۍ په ۲۱مه نېټه پیل شوې دي. د نویو قوانینو پر بنسټ، د کرکټ نړیواله شورا یا د ICC د لوبلړیو پرمهال باید له لوبډلو سره د مرسته کوونکې ملاترې ډلې د غړو شمېر راکم شي او د روزونکې ډلې، ډاکټرانو او مدیرانو شمېر یا راکم او یا باید هیڅ مله نه وي. دا پرېکړه وروسته له هغې کېږي چې د یو شمېر لوبډلو په ځانګړې توګه انګلستان او هندوستان ۱۹ کلنو کرکټ ملي لوبډلو د سویلي افریقا په کوربه توب ۱۹ کلنو کرکټ نړېوال جام کې له ځان سره د معمول خلاف د لوبغاړو په ګډون ۲۸ کسیزې ډلې راوستې وې . د بدلونونو پر بنسټ، له دې وروسته به د نړېوال جامونو پرمهال د هرې ګډون کوونکې لوبډلې

په غړو کې د لوبغاړو په ګډون ټولټال ۲۳ کسان شامل وي چې ورسره به ۱۵ لوبغاړي او پاتې یې ملاتړ کوونکي روزونکي ډله او مدیر شامل وي. سربېره پر دې به یاد نوي بدلونونه د استرالیا په کوربه توب د سږ کال شل اوریزه کرکټ نړېوال جام سیالیو پرمهال هم په لوړه کچه په منظمه توګه عملي شي. له دې وړاندی د کرکټ نړېوالې شورا په چوکاټ کې د لوبلړیو پرمهال د ۲۵ کسیزې ډلې د لېږلو اجازه وه خو انګلستان او هندوستان به ډېر وخت له دې زیات شمېر ډلې سیالیو ته لېږلې چې اوس پرې محدودیت وضع شو. دغه راز به د کرکټ نړیوالې شورا په لوبلړیو کې هغو کسانو ته هم د کرکټ نړېوالې شورا اجازه نه وي چې که چېرې یې لګښتونه هم خپله د کرکټ بورډونو له لارې ورکړل شي. د کرکټ نړیوالې شورا له وړاندې د دغه نوي قانون اعلان کړی دی او دغه راز یې هندي کرکټ بورډ ته هم لېږلی دی چې د کرکټ د یوې پیاوړې اداري په توګه ورسره خپل نظر شریک کړي. کرکټ نړېوالې شورا د نوي قانون د عملي کولو موخه په دې شورا د لګښتونو او

لوژیستیکي بار کمول په ګوته کړي دي چې د اضافه لوبغاړو او روزنکي ډلې په شتون کې ورسره د نړېوالو جامونو پرمهال مخ وي. د یادونې وړ ده چې پر دغو نویو اصولو د ۲۰۱۸ کرکټ نړېوالې شورا په کلنۍ غونډه کې پرېکړه شوې وه چې باید د ۲۰۲۰ کال څخه د کرکټ نړیوالې شورا چوکاټ لاندې په ښځینه او نارینه کرکټ ټورنامنټونو کې عملي شي. دغه راز دیوه بل قانون له مخې په لوبغالي کې له ولاړو لوبڅارانو یو بل صلاحیت هم واخیستل شو چې له دې وروسته به د (نوبال) پرېکړه لوبغالي کې ولاړ لوبڅاران نه بلکې درېم لوبڅار کوي. د دې قانون پر اساس درېم لوبڅار یا د تلویزون لوبڅار کولای شي چې کله لوبغالي کې ولاړو لوبڅارانو څخه اشتباه کېږي یا (نوبال) ورکړي یا ورنکړي، خو دریم لوبڅار کولای شي، څو اعلان کړي چې موخه یې د دواړو لوبډلو او لوبغاړو په حق کې باید نا انصافي ونه شي. ویل کېږي چې نوی قانون به هم د استرالیا په کوربه توب په روان ښځینه شل اوریزه کرکټ نړېوال جام سیالیو کې په رسمي توګه د لومړي ځل لپاره عملي شي چې وړاندې ورته پرېکړه هندي کرکټ بورډ هم د سږ کال په (IPL) سیالیو لپاره کړې ده.



د چټکو توپ اچوونکو تمریناتي کمپ پیل شو

افغانستان کرکټ بورډ د کابل کرکټ لوبغالي په سرپټي اکاډمۍ کې د چټکو توپ اچوونکو لپاره د ځلورو اونیو تمریناتي کمپ پیل کړ.

د چټکو توپ اچوونکو په لومړي پړاو تمریناتي کمپ کې د ملي لوبغاړو سربېره د ۱۹ کلنو او کورنۍ کرکټ چټک توپ اچوونکي لوبغاړي هم ګډون لري چې په دغه کمپ کې وفادار مومند، عبدالرحمن، یوسف ځاځی، فضل الحق، زاهد الله، سمیع الله سالارزی، یمین احمدزی، سید شېرزاد، حسیب الله، فرهاد مومند، سمیع بلال، دستګیر او ولي اغا ګډون لري.

دا لومړی ځل دی چې د کابل په سرپټي اکاډمۍ کې دغو لوبغاړو ته یاد تمریناتي کمپ برابرېږي. د ویلو ده چې یاده لړۍ به په بېلابېلو پړاونو کې تر ۱۲ اونیو دوام ومومي او یوازېنی موخه یې هم د لوبغاړو په نېمګړتیاو کار کول دي.

د دغه تمریناتي کمپ روزنکی دولت احمدزی وایي، په دغه لومړي پړاو کې به د لوبغاړو په تخنیکي، تکتیکي، ذهني او فزیکي پیاوړتیاو باندې کار وشي.

ښاغلی دولت احمدزی زیاتوي، د هرې ورځې لپاره منظم پلانونه لري چې د هغې له مخې به دغه کمپ پر مخ وړل

کېږي، لکه تخنیکي برخه کې د لوبغاړو د توپ اچونې په منډه، د توپ اچونې په بڼه او داسې نورو برخو کار کېږي. تکتیکي برخه هم د چټکو توپ اچوونکو لپاره خورا اړینه ده چې په دې برخه کې د لوبغاړو پر سوینګ او لاین او لینت باندې کار کېږي. د لوبغاړو فزیکي وړتیا لوړول هم د دې تمریناتي کمپ یوه اړینه برخه ده چې په یاد تمریناتي کمپ کې پرې ځانګړې کار کېږي او سربېره پر دې د لوبغاړو پر هغو برخو ډېر تمرکز شوی چې د چټکو توپ اچوونکو له لورې په چټکه توپ اچونه کې ډېر کارول کېږي او د دغې برخې پیاوړې لوبغاړي د لوبو پرمهال تر ډېره له ټپي کېدو ژغورې.

لکه څرنګه چې یادونه وشوه په دې کمپ کې د لوبغاړو ذهني برخه هم په پام کې نیول شوې ده، چټک توپ اچوونکي باید ذهناً په بشپړ ډول اماده وي، څو مخامخ لوبغاړو ته څه ډول توپ اچونه وکړي او د اور په جریان کې کوم ډول توپ اچوونه ورسره مرسته کولی شي او سربېره پر دې باید د خپلو اوورونو لپاره د لوبې په جریان کې څرنګه یو منظم پلان له ځان سره جوړ کړي.

په دغه تمریناتي کمپ کې د ملي لوبډلې یو تن ګډون کوونکي لوبغاړي یمین احمدزي وایي، د چټک توپ اچوونکو لپاره د ورته تمریناتي کمپونو برابرول ډېر اړین دي او ډېره مثبته پایله لري.

نوموړي زیاته کړه: ((په دغه کمپ کې په ډېره جدي توګه پر خپلو اړینو برخو کار کوي او دغه کمپ تر اوسه د ټولو ګډون کوونکو لوبغاړو لپاره ډېر ګټور تمام شوی دی او هر لوبغاړي ته په ډېر مسلکي او تدریجي توګه روزنه ورکول کېږي.))

د هندوستان په ګریټر نویډا کې د ملي لوبغاړو د روزنیز او تمریناتي کمپ ځینې انځورونه

RANA Technologies Enterprises

The most trusted ISP/ICT Company in Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

Internet Service

IT Hospital

Malomaat 411

RANA BPO

For more information call
0798 85 85 85

RANA رانا TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan
www.ranatech.com info@ranatech.com

له ځوان لوبغاړي
شفیق الله غفاري
سره مرکه

د افغان کرکټ مجلې لپاره دا ځل د نولس کلنو کم عمره لوبډلې له ځلېدونکي ستوري شفیق الله غفاري سره غږېدلي یو. نوموړی د روان زېږدیز کال د نولس کلنو په نړیوال جام لوبو کې ډېر ښه وځلېده او د سیالو لوبډلو ډېر لوبغاړي یې له ډګره بهر کړل چې په لنډو ټکو کې یې له تاسو سره مرکه شریکوو او پام مو ورته راګرځوو.

پوښتنه: که د لومړي پوښتني په توګه راته ووایاست چې کرکټ مو کله او څرنګه پیل کړ؟

ځواب: د افغانستان ملي لوبډله به مې پر ټلویزیون تعقیبوله چې ډېر ترې متاثره

شوم او هماغه و چې په ښوونځي کې مې د کرکټ لوبې پیل کړې.

پوښتنه: کرکټ ته چا ډېر هڅولي یاست؟

ځواب: باید ووایم چې مور او پلار ورته ډېر هڅولی یم.

پوښتنه: که راته ووایاست، کله مو چې د لومړي ځل لپاره په نړیواله کچه د افغانستان استازیتوب کاوه نو څه احساس مو درلود؟

ځواب: په نړیواله کچه مې د افغانستان استازیتوب کول یو ستر ارمان و، چې په دې سره مې دغه ستره موخه او ارمان ترلاسه کړ او دومره خوشحاله وم چې په اصطلاح له ډېرې خوشحالۍ په جامو کې نه ځایدم.

پوښتنه: د افغانستان په استازیتوب دي لومړی لوبه کله او د کوم هېواد پر وړاندې ترسره کړه؟

ځواب: د افغانستان لپاره مې لومړی لوبه د هندوستان پر وړاندې په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې وکړه.

پوښتنه: که د نړیوال جام لوبو په اړه چې په سویلي افریقا کې ترسره شوې، خپل نظر راسره شریک کړئ؟

ځواب: په نړیوال جام کې د افغان لوبډلې نتیجه ښه وه، زموږ لومړنی پلان هم همدا و چې له ګروپ څخه بل پړاو ته باید لاره پیدا کړو، له نېکه مرغه چې په خپل دغه پلان

کې بریالي شوو، خو له بده مرغه چې د اتو غوره لوبډلو په پړاو کې مو مخ ته لاره پیدا نه کړه او په پایله کې مو اووم مقام ترلاسه کړ.

پوښتنه: څرنګه مو وکولی شول چې د نړیوال جام سیالیو په لړ کې د سیالو لوبډلو ډېر لوبغاړي وسوځوی او د ډېرو ویکټو اخیستونکو لوبغاړو په ډله کې دویم مقام ترلاسه کړئ؟

ځواب: نړیوال جام لوبو ته په پوره چمتوالي سره تللی وم او په دې اړه مې ډېر فکر کړی و چې باید د خپل هېواد لپاره ښه وځلیږم، همدارنګه به د لوبډلې روزنکي او لوبغاړو هم ډېر هڅولم چې په دې سره زما روحیه نوره هم ښه لوړېده.

پوښتنه: د سیالیو په لړ کې به مو د روزونکي پلان څومره عملي کاوه؟

ځواب: هر لوبغاړی کوښښ کوي چې د لوبې پر مهال د روزونکي پلان په ښه توګه عملي کړي نو ما هم ډېر کوښښ کاوه، څو په دې برخه کې بریالی واوسم نو هماغه

و چې الحمدالله نتیجه مې هم ښه وه.

پوښتنه: شفیق الله غفاري د راتلونکي لپاره څه پلانونه لري؟

ځواب: د راتلونکي لپاره ډېر ښه او منظمه پلانونه لرم، ترڅو وکړای شم نور هم تر نړیوالو ډګرونو ورسېږم او د افغانستان بیراغ ورپوم.

پوښتنه: کوم ډول توپ اچونه کې مخامخ لوبغاړی په اسانۍ سوځولی شې؟

ځواب: په ګوګلي توپ باندې لوبغاړی ژر سوځولی شم.

پوښتنه: په عادي ژوند کې د ورځې په جریان کې څو ساعته تمرین کوې؟

ځواب: د ورځې په جریان کې شا وخوا درې ساعته تمرین کوم.

پوښتنه: په کوم نمبر ښه توپوهنه کولی شې؟

ځواب: پنځم او شپږم نمبر کې ښه توپوهنه کولی شم.

پوښتنه: په توپوهنه کې د لوبغالي کوم لوري ته ښه شاټونه وهلی شې؟

ځواب: میډ اف، میډ ان او اکسټرا کوور لوري ته ښه توپوهنه کوم.

پوښتنه: د خوښې وړ لوبغاړی دې څوک دی؟

ځواب: راشد خان.

پوښتنه: څه ډول ژوند دې خوښیږي؟

ځواب: ساده او کلیوال ژوند مې ډېر خوښ دی.

پوښتنه: په زړه دې کوم څه شته؟

ځواب: هو په زړه مې دا ارمان دی

چې مور او پلار حج ته ولېږم.

پوښتنه: خپلو هېوادوالو ته څه پیغام لري؟

ځواب: ځوانان دي خپلو زده کړو ته بشپړه پاملرنه وکړي، کشران دي مشرانو ته احترام وکړي او مشران دي په کشرانو مهربانه اوسي او هر افغان دي د دايمي سولې لپاره دعاوې وکړي.

د افغانستان کرکټ بورډ د څانګو پېژندنه

د تدارکاتو څانګه:

د افغان کرکټ مجلې لپاره مو دا ځل د افغانستان کرکټ بورډ د تدارکاتو له څانګې سره ځانګړې مرکه کړې چې د یادې څانګې عمومي فعالیتونه، ورځنۍ چارې، د دوی موخې، په دغه څانګه کې اصلاحات او نور اړوند موضوعات درسره په لاندې مرکه کې شریکوو چې د یادې څانګې له مسوول ښاغلي ذکرالله صبوري سره مو پرې خبرې اترې کړې دي.

د تدارکاتو څانګې کارکوونکي

د افغانستان کرکټ بورډ د تدارکاتو په څانګه کې شپږ کارکوونکي دندې پر مخ وړي. د دغې څانګې مسوول ذکرالله صبوري دی چې پخپله برخه کې ښه تجربه لري چې همدارنګه په یاده څانګه کې پنځه نور کارکوونکي هم دندې ترسره کوي چې ټول یې لوړې زده کړې لري، ذکرالله شهیدي د همدې څانګې د ارشد افسر په توګه دنده ترسره کوي، پر نوموړي سربېره بلال احمد بابکرخېل د تدارکاتو د افسر، عمر صاحبزوی د اداري د توکو او وسایلو د پېرونکي، حسیب الله ظهیر د دغې څانګې د مرستیال او محمد ارشاد ستانکزی بیا د اسنادو د ریکارډ او ثبت مسوول په توګه دنده ترسره کوي.

د تدارکاتو څانګه په څو ټکو کې:

د تدارکاتو څانګه د دغې ادارې هغه عملیاتي څانګه ده چې دکرکټ بورډ لپاره د ټولو وسایلو او توکو پېر او همدارنګه په اړوند ډګر کې د اړتیاو له مخې د ټولو اسانتیاو رامنځته کول د دوی له لوري ترسره کېږي چې سربېره پر دې کورنیو او نړیوالو لوبو ته ډېرى فزیکي امکانات د همدې څانګې له لوري چمتو کېږي.

د دغې څانګې اساسي او مهمې چارې:

- د کرکټ بورډ ادارې د اړوند ټولو اړینو توکو او وسایلو پېرل
- د کورنیو او سترو لوبو، د شپږیزې کرکټ لیګ، لیسټ اې سیالیو او نورو کورنیو لوبو ته د فزیکي امکاناتو او اسانتیاو برابرول.
- همدارنګه له هېواده بهر د افغانستان په کوربه توب د سیالو لوبډلو پر وړاندې د ټولو لوبډلو لپاره د اسانتیاوې رامنځته کول، دغو لوبډلو ته د ټولو توکو او وسایلو پېر هم د یادې څانګې له لوري ترسره کېږي.
- په ټولو چارو کې د روڼتیا او شفافیت په پام کې نیول، همدارنګه د ټولو اړوند شته قوانینو په چوکاټ کې د پېر د لړۍ پر مخ وړل .
- د ادارې لپاره ټول اړوند خدمتونه او وسایل وړاندې کول.
- په بازار کې د اړوند سرچینو او وسایلو پوښتنه او مطالعه، هر هغه څه چې د ادارې اړتیاوې ورسره پوره کېږي او ادارې ته یې له هر اړخه ګټه وي؛ پېرل.
- له ونډه والو او شرکتونو سره خبرې کول، ترڅو هغه وسایل او خدمات چې اداره ورته اړتیا لري، په ډېر ښه کیفیت او ګټې ترلاسه کول.

- د خپلې څانګې لپاره د پالیسي رامنځته کول او په ټولو چارو کې د قوانینو او پالیسي عملي کول.
- دټولوهغوشرکتونوسره بحث اوپه پایله کې د هغوی انتخاب چې دوی ورسره د راکړې ورکړې قراردادونه لاسلیکوي.
- د هرې کمپنۍ او شرکت تولیداتو او بیو ارزونه، کوم چې د ادارې اړتیاوې پوره کولی شي له هغو سره مخ ته تګ او همدارنګه د قراردادونو لاسلیکول.
- له معتبرو کمپنیو او شرکتونو سره د قراردادونو له لاسلیک وړاندې د هغوی د غوښتنلیکونو، مالي راپورونو او پروپوزلونو تحلیل او تجزیه چې په پایله کې بیا له غوره او پر شرایطو برابر شرکت سره مخ ته ځي.
- د خپلې اړوند څانګې کارمندانو ته د توکو د کیفیت، ارزښت او د خریدارۍ د څرنګوالي په اړه پوهاوي او روزنه ورکول، ترڅو د ادارې لپاره باید کوم کیفیت توکي او وسایل وپېري او د کومو قوانینو او اصولو له مراعتولو وروسته ورسره وړاندې لاړ شي او یا کوم توکي باید قبول نه کړي.
- له ونډه والو او اړوند شرکتونو سره د شوو قرادادونو څارنه او نظارت، څو هغه ټولې اړتیاوې چې دوی ورسره په قرارداد کې یادونه کړې، پوره کړي که نه چې په دواړو حالاتو کې دوی خپله پرېکړه کوي، په دې معنا که چېرې د شرکتونو خدمتونه د قرارداد پر بنسټ وي او غوره کیفیت لري نو تاییدوي یې، له هغه پرته یې ردوي.
- له ونډه والو او شرکتونو سره د اړتیا له مخې په شته قراردادونو کې د هر ډول تعدیل او بدلون رامنځته کول هم د دې څانګې له مسوولیتونو دي.
- د ټولو ترلاسه شوو توکو او وسایلو د کیفیت کتل چې د دوی پر قرارداد برابر دي که نه؟ که چېرې برابر نه وي نو ردوي یې او د بیا تهیه کولو او چمتوو کولو غوښتنه ترې کوي.
- د ادارې د نورو ټولو څانګو د اړتیاو او وسایلو پېرل چې د شته قوانینو پر بنسټ مخ ته وړل کېږي.



ورځنۍ چارې:

- د افغانستان کرکټ بورډ د نورو څانګو د ورځنیو خریداریو د وړاندیزونو پر مخ وړل او هغوی ته ټول هغه امکانات برابرول چې د اړوند څانګې له لوري یې پیشنهاد یا وړاندیز شوی دی.
- لوبغاړو ته د کمپونو او سیالیو پر مهال بشپړ امکانات او اسانتاوې رامنځته کول.
- لوبغاړو او اداري مسوولینو ته د سیالیو او نورو مهمو ناستو لپاره چې له هېواده بهر ترسره کېږي، د ټکټونو چمتو کول.
- د ټولو پېرېدونکو وسایلو او توکو لپاره د مناسبو او غوره بیو موندنه چې په پایله کې د اړتیا وړ وسایل په ښه بیه خو په لوړ کیفیت ترلاسه کوي.
- د ټولو پېرل شوو موادو ثبت او راجسټرول چې باید د بشپړې روښتیا لپاره هر مهال موجود وي.
- د مقدار، د بازار د مطالعې، وخت، کیفیت او بیو تنظیم، څو د څانګې له غړو سره په بشپړه همغږۍ په منظم ډول ټولې چارې ترسره شي.
- د قراردادونو تنظیم، د غوره خدماتو وړاندې کوونکو او تولیداتو د عرضه کوونکو، د نوو سرچینو او معلوماتو موندنه او په بازار کې د نېک شهرت او نوم وړاندې کول.

د اصلاحاتو او روښتیا رامنځته کول:

د کرکټ بورډ په تدارکاتي څانګه کې د تېر په پرتله ډېر بدلون رامنځته شوی، پخوا به ځینې کارونه په نغدي توګه ترسره کېدل چې اوسمهال دغه لړۍ په بشپړ ډول د یوه روڼ سیستم او د بانک له لارې ترسره کېږي او همدارنګه ټول قراردادونه هم اوس اعلان ته وړاندې کېږي چې په پایله کې بیا پر ټولو شرایطو برابر او معتبر شرکت د قرارداد ګټونکی اعلانیږي. همدارنګه اوسمهال د پخوا په پرتله په ډېرو برخو کې روښتیا رامنځته شوې ده او د ټولو وسایلو او توکو پېر له یوې رڼې پروسې وروسته بیا د داخلي تفتیش او کنټرول څانګې له لوري تېرېږي چې په پایله کې یې بیا خریداري کېږي او ټول اسناد یې په ارشیف کې پاتې کېږي. د پورته ذکر شوو موارډو ګټه دا ده چې اوس دولت ته د قراردادونو له لارې ټکس یا مالیه هم ځي او دغه یو غوره کار دی چې د دولت بودیجې ته اضافه کېږي.

د دغي ځانګړي شعار:

د افغانستان کرکټ بورډ د تدارکاتو ځانګړي شعار، په اداره کې د لا ډېرې روښتیا او شفافیت رامنځته کول، په مشخص او ټاکلي وخت د ټولو چارو او خدمتونو وړاندې کول او د درغلیو، اداري فساد او بډو یا رشوت پر وړاندې جدي مبارزه کول دي.

موخې او اهدف:

- د کرکټ بورډ اداري په تدارکاتو برخه کې د لا ډېر بشپړ او روڼ سیستم رامنځته کول چې پر یاد سیستم د دغې اداري له معلوماتي ټېکنالوژۍ

برخې سره په ګډه کار روان دی.

- د افغانستان کرکټ بورډ له لیګونو د غوره عوایدو ترلاسه کولو په موخه قراردادونه اعلان ته وړاندې کول چې په قرارداد کولو سره به یې اداري ته ډېر عواید ترلاسه شي.

- له کابل، ننګرهار او خوست ولایتونو پرته د کرکټ ۱۳ لوبغالي او اکاډمۍ خصوصي شرکتونو ته ورکول چې دغه چاره د کرکټ په نړۍ کې غوره کار ثابت شوی او د دواړو لوریو په ګټه وي.

- اداره کې لا ډېره او غوره همغږي رامنځته کول.

همدارنګه دغه څانګه ډېره هڅه کوي چې د وخت له اړتیاو سره سم غوره سیستمونه او رڼې پروسې د خپلې ځانګې لپاره وکاروي، څکه دافغانستان کرکټ بورډ اداره د خپل دولت او ولس هرې پوښتنې ته ځواب ویونکې دی او پر خپل دغه کار ویاړ کوي.

بنګله دیش

د کرکټ په تاریخ کې لومړی نړیواله اتلولي وګټله

د ۱۹ کلنو کم عمره لوبډلو د ۲۰۲۰ زېږدیز کال د نړیوال جام لوبې چې د سویلي افریقا په کوربه توب ترسره شوې، په پایله کې یې د بنګله دېش له ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډلو وتوانېدله، څو دغه جام د خپل هېواد په نوم کړي چې په دې سره بنګله دېش وکولی شول چې د لومړي ځل لپاره د کرکټ په نړۍ کې دومره ستره لاسته راوړنه ولري. د ۱۹ کلنو لوبډلو دیارلسم پړاو نړیوال جام لوبو کې د افغانستان په ګډون د نړۍ ۱۶ غوره لوبډلو برخه اخیستې وه چې په پایله کې یې بنګله دېش د تېر نړیوال جام اتلې هندوستان لوبډلې پر وړاندې د اتلولۍ ګټلو په موخه په پایلوبه کې مخ شوه. د یاد نړیوال جام وروستۍ لوبه کې هندوستان لومړی توپوهنه ترسره کړه چې د پیلوونکي لوبغاړي جېسوال د ۸۸ منډو سربېره یې بیا هم ۱۷۷ منډې وکړې او بیا یې هدف د باران ورښت له امله په ۴۶ اوورونو کې ۱۷۰ منډو ته راښکته شو چې د بنګله دېش لوبډلې یاد هدف د اوو لوبغاړو په سوځېدو ۲۳ توپونه وړاندې ترلاسه کړ او دغه ستره بریا یې د بنګله دېش په نوم ولیکله. ادا د بنګله دېش د کرکټ په تاریخ کې لومړی ځل دی چې د یاد هېواد

ملي لوبډله او یا ۱۹ کلنه کرکټ ملي لوبډله د کرکټ نړیوالې شورا په چوکاټ کې د اتلولۍ جام ګټي. د یادولو ده چې په دغه لوبه کې د بنګله دیش لپاره پرویز حسین ۴۷ منډې جوړې کړې، خو د یادې لوبډلې لوبډلمشر اکبرعلي چې تر پایه په ۴۳ منډو ناسوځېدلې پاتې شو، د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه. دغه راز د یادې نړیوالې لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزه هندوستاني پیلوونکي لوبغاړي یشاسوي جېسوال ته ورکړل شوه چې له نورو ټولو ګډون کوونکو لوبغاړو یې زیاتې ۴۰۰ منډې جوړې کړې وي.

د هندوستان او بنګله دېش لوبډلو ترمنځ د يادې ډېرې حساسې لوبې وروسته چې بيا په لفظي او فزيکي شخړې هم بدله شوه، په پايله کې يې لوبغاړو ته د نړيوالې شورا له لوري د اصولو پر بنسټ سزا هم ورکړل شوه. د بنګله دېش له دريو، خو د هندوستان له دوه لوبغاړو څخه ٦ او ٥ امتيازونه وګرځول شول چې په راتلونکي کې د ورته سرغړونو د تکرار په صورت کې ښايي له يوې يا زياتو لوبو منع هم شي. د نولس کلنو کرکټ نړيوال جام سيالۍ هر دوه کاله وروسته د نړيوالې شورا په يوه غړي هېواد کې ترسره کېږي چې استراليا يې په ١٩٨٨ کال کې د لومړي پړاو پر مهال د اتلولۍ جام ترلاسه کړی و.

د نولس کلنو نړيوالو جامونو په ١٣ پړاونو کې تر اوسه هندوستان ۴، استراليا ٣، پاکستان ٣ ، خو انګلستان، سويلي افريقا، ويسټ انډيز او بنګله ديش بيا يو يو ځل دغه جامونه ګټلي دي. ټاکل شوې د کرکټ نړيوالې شورا په چوکاټ کې د نولس کلنو د ٢٠٢٢ کال ١۴م پړاو ۵٠ اوريزه سيالۍ د ويسټ انډيز په کوربه توب ترسره شي چې به پکې افغان ١٩ کلنه کرکټ ملي لوبډله هم نېغ په نېغه د بشپړ غړيتوب لرلو په موخه ګډون وکړي.

The 2020 Women's Twenty20 World Cup starts on February 21 and ends with the final on March 8. The tournament is being hosted by Australia, with games to be played at the SCG, MCG, WACA, the Sydney Showground Stadium, the Manuka Oval in Canberra, and the Junction Oval in Melbourne. Both semi-finals will be at the SCG, and the final will be at the MCG.

How many teams are playing?
The tournament features ten teams: Australia, England, New Zealand, India, Pakistan, Sri Lanka, South Africa, West Indies, Bangladesh and, for the first time, Thailand. It's also the first time a Thailand team is playing any cricket World Cup.

What's the format?
The teams are divided into two groups of five. Each team plays every other in their group, and the two teams with the most points in each group go through to the semi-finals.

On which channel is the tournament being broadcast?
In India, you can watch the games on Star Sports' channels on television or on Hotstar on the web or mobile. In Australia, you can catch the action on Fox Sports on television or on Kayo Live Stream on digital. Sky Sports will broadcast the games in England and New Zealand. And, of course, you can follow all the live scores, ball-by-ball updates and news on ESPNcricinfo.

Who are the favourites?
Australia have won four of the six Women's T20 World Cups so far, including the most recent one, and are the clear favourites this time around as well. They have lost just two of 14 T20Is since the start of 2019. England and India are the next strongest sides, with New Zealand the dark horses.

What are some key dates to remember?
Australia play India on the opening day, February 21, and Australia play New Zealand on March 2 in the two marquee matches of Group A. India v New Zealand on February 27 could end up being a key encounter. In Group B, England v South Africa on February 23 and South Africa v West Indies on March 3 promise to be exciting games. You may also want to look out for first-timers Thailand's first game, on February 22 against West Indies. Both semi-finals are on March 5, and the final on March 8.

Women's T20 World Cup

Why is this Women's Twenty20 World Cup a big deal? The popularity of women's cricket has seen a dramatic rise in the past three years. Buoyed by India reaching the final, the 2017 Women's 50-over World Cup had more than 180 million television viewers, according to the ICC. The next big tournament, the 2018 Women's T20 World Cup, had live coverage in more than 200 countries. This edition is being hosted in Australia, where the Women's Big Bash League gets up to 300,000 television viewers for games, so the World Cup matches are expected to be well-attended and widely consumed on television.

What's changed about the tournament? The Women's T20 World Cup has been around since 2009, but for the first five editions it was run parallel with the men's tournament. In 2018, for the first time, the tournament was held as a standalone event. This edition is also a standalone tournament.

Is this bigger than the Women's 50-over World Cup? That's debatable, but in an effort to attract young audiences the ICC has focused on increasing the number of women's T20Is, making it the most commonly played format in the women's game. Until 2017, the most women's T20Is in a year featuring one of the top-eight teams was 55 in 2016 (a World-Cup year, meaning more T20Is naturally). In 2018, that number went up to 83 (another World-Cup year) and in 2019, it was at 48 despite there being no World Cup to boost numbers. By contrast, there have been just 86 women's ODIs played since 2017.

So when and where is the tournament?

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

عزيزي بانک
Azizi Bank

د عزيزي بانک ازي پې(AZI-PAY)، د بانکوالۍ په لوري نوی او ثابت گام

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515
www.azizibank.af